**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲/۰۹/۲۱

# گوره چې عالم چېرې او موږ چېرې

نه شتون دې زېږ منی دی، زېړېږمه
هجر دې لوی ویردی، ښه کړېږمه

پانه چې راژېړه شي، مخ کښته ځي
اور ته چې یم ناسته، خود ورېتېږمه

گوره چې عالم چېرې او موږ چېرې
هر څه کې ناکامه، ښه زورېږمه

زما امید له هرڅه نه شکېدلی دی
ښه شمه روانه، خو بیا لوېږمه

ځان خوشالوم، خوشالي نه راځي
بل ته چې څه پېښ شي، زه غمېږمه

۲۰۲۱/۰۸/۰۸





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ